PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

ای مؤمنانو! د سړیو کومه ډله دی په نورو سړیو ملنډی ونه وهي کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي، او نه دی ښځې پر نورو ښځو ملنډی وهي، کېدای شي چې هغوی له دوی نه غوره وي. او هم یو د بل بد مه یادوئ او یو بل ته بد لقبونه مه ړدئ. له ایمان راوړلو وروسته د فسق نوم یادول ډېر بد کار دی. او هر څوک چې له دې وانووښت نو همغوی لوی ظالمان دي. (الحجرات ۱۰ – ۱۱ آیتونه)

درس حدیث

له حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
کوم سړی چې د روژې د میاشتې یوه روژه هم له څه شرعي رخصت او ناروغی پرته وخوري نو که ټول عمر هم روژه ونیسي نو د روژې د میاشتې د یوې ورځې روژې بدل هم نه شي پوره کولی. (ابوداود، ابن ماجه، ترمذی)

شهادت دريم کال، ۲۱ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۱ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د زمرى ۲۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د رمضان ۱۷ مه د۲۰۱۱ م د آگست ۱۷ مه

حمایت مشروط بریتانیا از شرکت طالبان در کنفرانس بُن

سر ویلیم پیتی سفیر بریتانیا در کابل

کابل، رسانه ها:
در حالی که گفته می شود تاهنوز روشن نیست که طالبان در کنفرانس بن شرکت خواهند کرد یا نه اما به اساس گزارش ها تلاش های وجود دارد تا این گروه نیز در این کنفرانس حضور یابند.
سفیر بریتانیا در کابل می گوید، اگر طالبان حاضر به پذیرفتن فراخوان صلح دولت افغانستان گردند و به پروسه صلح بپیوندند از شرکت این گروه در کنفرانس بن حمایت خواهند کرد.
"اگر طالبان درخواست دولت افغانستان را به خاطر دست کشیدن از خشونت و گذاشتن سلاح به زمین و پیوستن به یک روند صلح قبول بکنند، درست است از اشتراک این ها در کنفرانس بن حمایت می کنیم."
مقام های آلمانی گفته اند که از پیش آماده گی ها برای برگزاری این کنفرانس را آغاز کرده و تلاش می شود تا این نشست به رهبری خود افغانها بر گزار گردد.
سفیر بریتانیا در کابل در حالی از شرکت طالبان در نشست بن حمایت اش را به طور مشروط اعلام می کند که وزارت خارجه افغانستان نیز گفته است اگر گفتگو ها میان دولت افغانستان و طالبان برای پیوستن آنان به پروسه صلح پیشرفت نماید طالبان فرصت شرکت در این نشست را خواهند یافت.
همچنان از صدور فرمان اخیر رییس در این نشست سفیر بریتانیا در کابل

بقیه در صفحه ۴

ایساف:

په یوه کال کې مو تر ۵۰ زره زیات هوایي عملیات کړي

کابل، رسنی:
په افغانستان کې د ایساف ځواکونو ویندوی وویل چې په تېر یوه کال کې دغو ځواکونو تر پنځوس زره زیات هوایي عملیات کړي دي.
د ناټو ترمشری لاندې د ایساف ویندوی کارټن جاکوبسن د دوشنبې په ورځ کابل کې خبریالانو ته وویل: "ایساف په یوه کال کې په افغانستان

پاتې ۴ مخ

د فرانسې دفاع وزیر له افغانستانه د ځواکونو له ایستلو سره مخالفت وکړ

فرانسه، رسنی:
د فرانسې حکومت له افغانستانه د فرانسوي پوځیانو د ایستلو په باب د دغه هیواد د سوسیالیست گوند د غړیو غوښتنه رد کړه.
د فرانسوي رسنیو د راپور له مخې د فرانسې دفاع وزیر په افغانستان کې د فرانسوي پوځیانو د حضور دوام د خپل هیواد د مسوولیت احساس وباله او پر دې مسوولیت د سترگو پټول یې د نه منلو وړ وگڼل.
د سوسیالیست گوند له نیوکو سره سره د فرانسې دفاع وزیر وویل چې په افغانستان کې به خپلو ژمنو ته شا وانړوي او یوازې له هغه مهالوېش سره سم به خپل سرتېري وباسي چې ولسمشر سرکوزي اعلان کړی دی.
د فرانسې حکومت ویلي چې تر راتلونکي کاله به له افغانستانه د خپلو

پاتې ۴ مخ

پنج تانکر و یک کانتینر قوای ناتو در تورخم از بین رفت

رادیو آزادی:
در نتیجه یک انفجار در نزدیکی تورخم داخل خاک پاکستان پنج تانکر و یک کانتینر مربوط قوای ایتلاف آتش گرفت. به گفته مقامات ذیربط این انفجار شام روز دوشنبه در منطقه لندی کوتل مرکز خیبر ایجنسی در یکی از کاروان های مواد اکمالاتی قوای ایتلاف صورت گرفت که موجب آتش سوزی در پنج تانکر مواد سوخت، یک کانتینر و یک موتر از نوع کرولا گردید.

یک تن از مقامات دولتی که نه خواست نامش افشاء گردد در صحبت که با رادیو آزادی داشت، وقوع این انفجار را تایید نموده و افزود، آتش سوزی که ناشی از این انفجار بوده تلفات جانی در پی نداشت. ولی خان شنواری، رییس خبرنگاران لندی کوتل چشم دید خویش را به رادیو آزادی چنین اظهار نمود:
"در نزدیکی تورخم بنابر ازدحام ترافیکی قطار تانکر های مواد سوخت ناتو توقف نموده بودند که در میان آنها انفجار بمبی صورت گرفت، که در نتیجه ، تانکر و یک کانتینر مربوط

بقیه در صفحه ۴

۱۲ فرد ملکی در نتیجهٔ درگیری ناتو و طالبان مجروح گردید

اسعدآباد، پژواک:
در نتیجهٔ درگیری میان طالبان مسلح و نیروهای ناتو در ولسوالی نرنگ ولایت کنر، ۱۲فرد ملکی به شمول زنان و اطفال زخم برداشت.
سیدفضل الله وحیدي والی کنر، به تاریخ ۲۵اسد به آژانس خبری پژواک گفت که این حادثه، شب گذشته در منطقهٔ قلاوونو از مربوطات ولسوالی نرنگ، رخ داده است.
وی افزود که طالبان مسلح، از کوه این منطقه، بر مرکز آیساف حمله

بقیه در صفحه ۴

ولسمشره استعفا ورکړه او څه په مخه دې ښه !

درېیم مخ

امریکا نوره له پاکستان سره په پټو سترگو مرسته نشي کولی

تاند:
امریکا پاکستان ته د سلگونو ملیون ډالرو پوځي مرستې ورکړه د القاعده او طالبانو پرضد د پاکستان له اقداماتو سره تړلې ده.

امریکا د پاکستان پوځ ته اته سوه (۸۰۰) ملیون ډالرو مرسته وروسته له دې ودروله چې، د پاکستان په خاوره کې اسامه بن لادن ووژل شو او په پاکستان کې د امریکا استخباراتي مامورینو ته د پاکستاني چارواکو له لوري خنډونه جوړ شول.
وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې په وروستۍ گڼه کې د امریکایي چارواکو په قول راپور ورکړ چې امریکا د خپلو ګټو د تشخیصولو لپاره یوه پټه تحقیقاتي اداره جوړه کړې چې د اسامه بن لادن له وژل کېدو وروسته به د دې نوې ادارې د پرېکړو له مخې پاکستان ته پوځي مرستې ورکوي.
امریکایي مقامات وایي چې له پاکستان سره به نور د پخوا په شان په پټو سترگو

پاتې ۴ مخ

مبارزه در فضای دیموکراسی روش و اخلاق مسؤلانه می خواهد

دکتور محمد انور

پارلمان در هر کشوری خاصتاً درکشور ما باید با الفاظ قانون فرهنگ قانونمند حالت موجوده را در نظر داشته و فیصلهٔ صادر نماید که مجموع نظام قرار گرفته در کنارهٔ پرتگاه نابودی وبحران لاعلاج را به هاویهٔ همیشگی نیندازد، زمانی قوهٔ مقننه با آخرین سلاحیکه فکر میکند در دست دارد گاهی قوهٔ قضائیه را ذبح و روزی هم همان شمشیر را بر تارک لوی سارنوال فرود میآورد شعر شاعر را بخاطر هر هموطن ما تداعی میکند.

چون تیغ به دست آری مردم نتوان کشت
در نزد خداوند بدی نیست فرامشت
این تیغ نه از بهر ستمگاران کردند
انگور نه از بهر نبید است به چرخشت

دروطن ما که درهمین چندروز دستهای مرموزی افسران بلندپایهٔ پولیس را در تخار بقتل میرساند و به کشتن برادر رئیس جمهور، رئیس شورای علما و شاروال کندهار کامیاب میشود و به قصد از بین بردن والی پروان ۱۹ تن مامورین پائین رتبهٔ دولتی را در پروان بقتل رسانیده و دهها تن دیگر مجروح، معیوب و ناتوان میشوند، صدها فامیل به غم می نیشینند و حرمت ماه مبارک رمضان هم در لهیب نفرت جوانب جنگ پامال میگردد....

بقیه در صفحه دوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د قانون د نه پلی کېدلو خطرناکي پايلي

قانون څه توکې تکالي نه دي چې ونه منل شي، بلکې قانون يو داسې قوت دی چې له هغه نه سرغړونه تر ټولو ستر جرم گڼل کېږي، قانون پواځيني قوت دی چې د هېواد نظم او دسپلين تأمينوي، حق او باطل سره جلا کوي، د ظلم او تېريو مخه نيسي او حقدار ته خپل حق ورسپاري.

عدالت او انصاف د ولس هغه مسلم حق دی چې نه ورکول يې حکومت او ملت ته ستونزې راولاړوي د حکومت استحکام او پايښت د ولس په استحکام او پايښت کې دی کله چې د ولس استحکام متزلزل شي نو حکومت هم د پايښت چانس له لاسه ورکوي.

د تېر کال په پارلماني ټاکنو کې چې د درغلی کوم شور او غال مغال پورته شو او ډېرو وکيلانو د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره د جمهور رئيس او سترې محکمې دروازې وټکولې نو هغوی قانوني مسؤليت درلود چې فرياد يې واوري او د شکايتونو د لېږې کولو لپاره عملي گامونه اوچت کړي. سترې محکمې د جمهور رئيس په فرمان د شکايتونو د څېړلو او حقدارو ته د حق ورکولو په مقصد يوه ځانگړې محکمه جوړه کړه تر څو هغه له دقيقو څېړنو او غور وروسته خپله پرېکړه اعلان کړي. بالاخر د څو مياشتو د دقيقو څېړنو وروسته د افغانستان په گڼو ولايتونو کې تقلب کوونکو وکيلانو نومونه اعلان او دهغوی پرځای پارلمان ته دهغو وکيلانو د لېږلو امر صادر کړ چې د ولس زياتې رأی يې ترلاسه کړې وې.

دا چې اوس له لست څخه حذف شوي وکيلان د ځانگړې محکمې د پرېکړې له منلو څخه سرغړونه کوي او په ښکاره د ځينو پردي پالو او وطن دښمنو عناصرو په لمسون او مرسته دهغې په خلاف د بغاوت سينه ډبوي، له اخلاقه پرې وتې رکيک الفاظ ورته استعمالوي، په هېواد کې حرج و مرج ته لمنه وهي، اړې گړې پيدا کوي او ملي يووالی ته زيان رسوي دا نو دنه بخښلو يو بل ستر جرم دی.

د افغانستان ولس ښاغلی کرزي او قانون نافذونکو له ادارو څخه په کلکه غوښتنه کوي چې د قانون او له قانون څخه د سرغړونکو ترمنځ په دې ښکاره کشمکش کې دې د قانون برلاسی يقيني کړی شي. د امرالله صالح په څېر د څو تنو اړې گړې پيدا کوونکو او دهغوی د ملاتړو د دړکو په وړاندې خپل سرونه ټيټ نه کړي. دولت او قضائيه قوه دې داډه اوسي چې له خپلې خاورې او قانون سره مينه لروونکي ولس د قانون په پلې کولو کې دهغوی کلک ملاتړ دی، ولس نور د لاقانونيت او د قانون سرغړوونکو څخه تر پوزې راغلی دی نه غواړي چې لدې پس پر هغوی له مسؤليت څخه خالي غير قانوني ډلې ټپلې باداري وکړي او په سرنوشت يې لوبې وکړي. د هېواد مطلق اکثريت پخپل هېواد کې د قانون برلاسی او حاکميت غواړي، له هغو ډلو ټپلو او اشخاصو څخه کرکه کوي چې د زور او زر له لارې د بېچاره ولس پر څټونو سواره شوي، د پرديو له خوا تمويلېږي او دهغوی په فرمايش په هېواد کې اړې گړې جوړه وي.

ددغو لاقانونو اشخاصو د مهارولو يواځينی لاره دا ده چې هغوی د قانون مضبوطو منگلو ته وسپارل شي او د هرې کړنې سزا ورته د قانون په چوکاټ کې ورکړی شي.

اصلاً د حکومت پايښت او غښتلتيا د ولس د ملاتړ په صورت کې ممکن دی او دا ملاتړ هله ترلاسه کېدلې شي چې قانون په صحيح معنی حاکم کړی شي.

د دولت، ملت او د خاورې استحکام په دې کې دی چې د قانون په عملي نفاذ، او له قانون څخه سرغړوونکو ته د سزا په ورکولو کې هېڅ قسم غفلت او نرمي ونه ښودل شي.

قانون يواځينی موثر قوت دی چې د ټولو منکراتو او بديو مخه نيسي او هېڅوک جرئت نه شي کولې چې له ورکوټې نه ورکوټې جرم ترسره کړي. نو څکه د قانون برلاسي او دهغه صحيح نفاذ د انساني ټولنې لومړنی ضرورت دی. نه ښايي د قانون له اهميت نه سترگې پټې کړی شي، اصلاً قانون ته اهميت نه ورکول خپل هېواد، ولس، استقلال، پرمختگ او عزت ته د اهميت نه ورکولو معنی لري، هر څوک چې قانون نه لري او د قانون احترام نه کوي هغوی په حقيقت کې د ذلت، حقارت او غلامي ژوند ته بلنه ورکوي.

مبارزه در فضای دیموکراسی روش و اخلاق مسؤلانه می خواهد

(بقیهٔ از صفحه اول)

... آیا رسانیدن حدود مخالفت چوکات داخلی نظام تا سرحد دشنام، نزاع و بحران به سود دشمنانی نخواهد بود که در سنگر برای نابودی وطن ما افتاده اند.

مبارزه در یک فضای دیموکراسی و استفاده از پارلمان به منظور رسیدن به اهداف سیاسی اخلاق و اصطلاحات خاص میخواهد زمانی یک وکیل پارلمان شعار میدهد (.... اگر کرزی ده کرزی هم شود ....) آیا این الفاظ و اخلاق مبارزهٔ پارلمانی رابطه ای دارد؟

زمانی رئیس کمیسیون انتخابات اظهار میدارد که تغییر در نتایج نهایی انتخابات (خیال است و محال است و جنون) همین ها الفاظ مهذب برای یک فرد موظف در نظام دولت بوده میتواند که آن هم داوری در امر مهمی چون انتخابات ریاست جمهوری و پارلمانی را به عهده دارد؟ در حالی که کمیسیون شکایات انتخاباتی در کنار خودش (٤١٣) دوسیهٔ قابل بحث و تعقیب را به لوی سارنوالی محول نموده باشد.

پشتیبانی ائتلاف سیاسی بنام تغییر و امید از همان فیصله های که منتج به ثمر رسانیدن چنین پارلمان شده است در حالی که استفادهٔ ناجایز و نامناسب از آب گل آلود است برای ماهی گیری موهوم مگر به این شک در اذهان عامه قوت نمی بخشد که آقای معنوی از طرف مربیان و عناصر نفوذی ائتلاف تغییر و امید به ریاست کمیسیون انتخابات بر آقای کرزی قبولانده شده و اینک که وظایف خود را به نفع همان ائتلاف به سر رسانیده اینک اکنون ائتلاف نامبرده از نتایج ناگوار آن باید حمایت بنماید.

وکیل محترم که ارگ ریاست جمهوری را به محاصره می کشاند مگر به این متوجه نیست که مخالفین مسلح نظام در موجودیت و مداخلهٔ قوای چهل وسه کشور خارجی برای اردوی ملی و پولیس ملی غیر قابل کنترول بوده این همه فجایع را برای هموطنان ما آفریده میتوانند اگر ارگ ریاست جمهوری هم در محاصره مخالفین سیاسی (فیصله محکمه ویژه انتخاباتی و استناف ولایت کابل) قرار گیرد مگر اسم اصلی کابل به موگادیشو مبدل نخواهد شد؟

و با تأسف نمایندهٔ گروه بین المللی بحران که خود چهرهٔ بحرانی داشته و هیجانی بودن یک بیمار Thyrotoxicosis را نمی توان در وجودش نفی نمود در حالی که باید راه های رفع بحران را تشخیص و به جامعه بین المللی و دولت افغانستان مشوره های مفید دهد به بحران دامن زده و گران فروشی یاد بقال میدهد و به گوش رئیس جمهور میزند که باید حالت اضطرار را اعلان نماید و به قوای خارجی در حال جنگ در افغانستان مشوره میدهد که در میان نظام که به حمایه و قبولاندن آن بر مردم ما آمده است از بی طرفی بیرون شده و به نفع فیصله رئیس جمهور و یا موضع گیری افراطی پارلمان جهتی را اختیار کنند اکنون از آنهایی که چنین چهرهٔ را به افغانستان برای کنترول بحران فرستاده اند پرسید که با کشور بحران زدهٔ ما احسان کرده اند یا ظلم و جفا؟

از جانبی هم با آنچه رسانه ها با آگاهی عامه رسانیده اند شورای مسلط بر مقدرات این کشور بخت برگشته جلسه ایرا که برای حل مشکل تطبیق فیصلهٔ محکمه و مخالفت عدهٔ از وکلای پارلمان در تطبیق فیصله در کاخ ریاست جمهوری دایر نموده بود شکار اختلافات سلیقوی و مصالح شخصی و گروهی گردیده و بی نتیجه به پایان رسد. ملت ما انتظار چه روزی بهتری را داشته باشند؟

به آن عده از اعضای محترم پارلمان و بالاخذ جناب نائب دوم که از محل کنترول مجلس رئیس جمهور را به آن متهم می نماید که وی با تشدید بخشیدن به بحران میخواهد دورهٔ دیگری را به عمر ریاست جمهوری خود بیافزاید. باید گفت که از خود و جبههٔ ایجاد شده در کنار شان باید بپرسند پارلمانی که فیصلهٔ قوهٔ قضائیه را مردود شمرده رئیس و اعضای شورای عالی ستره محکمه و لوی سارنوال را سلب اعتماد و سبکدوش اعلان کند و چند وزیر دیگر کابینه را به سلب اعتماد تهدید نماید. به قوهٔ قضائیه اهانت و از الفاظ شائیسته شان نظام داری بیرون شده ارگ ریاست جمهوری را به محاصره بکشاند به این گمان نمی افتد که در ماحول خود شان و در حلقه تصمیم گیری جبههٔ ایجاد کرده شان عناصر نفوذی همان کاخ ریاست جمهوری که نزد شان متهم است و وظیفه دارد که دیموکراسی نیم بند را نابود و برای رئیس جمهور فضای سوء استفاده را فراهم کند تا با اعلان حالت اضطرار به دوام و بقای خود مشاوران، هواخواهانش و ادامهٔ کرسی ها و امتیازات شان که از راه قانونی برایشان میسر نیست زمینه سازی بنمایند.

ما از همه شخصیت ها، گروه ها و احزاب سیاسی وطن ما صمیمانه میخواهیم در برابر تاریخ حال و آینده کشور ما احساس مسؤلیت نموده و افغانستانی را که در طی ده سال گذشته بجای راهیابی به صلح و ثبات قوس نزولی خود را در جهت بی ثباتی و بحران می پیماید نجات دهند آنها باید به توطیه های تفرقه افگنان و امتیازخواهانی که بقای و دوام خود را به سلطه حتی اگر به قیمت ویرانی همه افغانستان و منطقه هم باشد به بی تفاوتی و بی رحمی بر ملت ما تحمیل میکنند و از حد بیش میخواهند و از وقت پیش میخواهند فرصت بیشتر فراهم نکنند که انحصار خود را در بخش های مافیایی زمین، مواد مخدر، اقتصاد و آدم ربایی با ریختاندن خون فرزندان این وطن فراهم آورند و قوای خارجی فقط برای آن در اینجا قربانی دهد و قربانی کند، که امتیازات آنها را پاسداری نموده باشد، بگذارند فرصت باقیماندهٔ ریاست جمهوری رئیس جمهور کرزی و ماحول شان طوری سپری گردد که با ایجاد فضای ماجرا جویانه بهانهٔ اعلان حالت اضطرار و دوام و بقای تسلط را به آنها فراهم نگردد و ملت مجاهد افغان دست به دست هم داده فرصت أنرا یابند که با آوردن صلح و ثبات، آیندهٔ افغانستان آزاد، آباد، مرفع و بدون تسلط اجانب را به دست خود رقم بزنند.

ولسمشره استعفا ورکړه او ځه په مخه دې ښه!

دېرې خبرې مې په زړه وې

عبدالله "کامه وال"

پورته عنوان دهغه وينا يوه برخه ده چې له قانون نه د ملاتړ ايتلاف مشر حاجي ظاهر قدير په يوه غونډه کې په يو احساساتي انداز کې وکړه په ولسي جرګه کې له قانون نه د ملاتړ ايتلاف په نامه ګڼ شمېر وکيلان د دې جرګې د ټاکنو د پايلو په تړاو د ولسمشر له حکم سره د مخالفت له امله اعتراضيه غونډې جوړوي او يو شمير له جرګې بيرون سياسيون او غير مسؤل خلک هم پدی غونډو کی ګډون کوی چی مسئله يي نوره هم تاوتريخوالی ته کش کړه او دايتلاف دغړو ترمنځ يي بی باوری هم رامنځته کړه او ديو زيات شمير خلکو دتشويشونه هم را پيداشوی چی ده داډول خلکو ګډون پداسی غونډو کی څه مانا لری ايا داښاغلی له ولسمشره هغه غچ چی دوی يی له حکومته شړلی پدا ډول اولدی لاری اخلی. دا ښاغلی هغه څوک دی چی تل يی د دی ملت په سرنويشت لوبی کړی اوخپلی نامشروع ګټی يی دملت ترګټو لوړی ګڼلی او کله يی هم پردی ملت زړه نه دی دردولی چی ده دوی ساعت تير وی اوپه نظام کی سهيم وی اوهرڅه سم وی او که نه نوبيا له هيڅ لوبی هم دريغ نه کوی چی ژوندی مثال يی همدادولسی جرګی روانه مسئله ده دوی غواړی دی مسئلی ته سياسی رنګ ورکړی وملک دبهران لوری ته کش کړی او داسی ښای چی دولت د ثبات په راوستو او د قانون په پلی کولو کی پاتی راغلی اوپدی توګه غواړی خپل تير تړ په پر پټ کړی. هغه دې مسئلی هغه وخت زور واخيسته چې ولسمشر حامد کرزي د ولسي جرګې په ټاکنو په برخه کې د ولسمشر حامد کرزي وروستی حکم د قانون خلاف دی داچی دقانون خلاف دی يانه دی دادقضای ارګانونو کار دی.

د ده په وينا، په دې وروستيو کې د افغانستان دولتي نظام په خپلمنځيو ستونزو کې ډېر زيات راګير شوی دی، چې له امله وسلوال مخالفين هم له افغان دولت سره مذاکراتو ته زړه نه ښه کوي.

صالح زياتوي مخالفين چې دغه ګډوډې ګوري، د څو نو نوروکلونو لپاره هم خپلې جګړې ته ادامه ورکوي او هيله من کېږي، چې بريا به ترلاسه کړی سوال دادی چی ايا ترپرونه ښاغلی صالح دهمدی نظام ديو ستری اوتر ټولو مهمی اداری مشرنه وه چی هره ورځ به کابل دلسګونو چاودنو شاهد وه ان تردی چی دجشن په ملی مراسمو کی پر ولسمشر اونورودولتی چارواکو ددرنو وسلو ډزی وشوی چی په نتيجه کی يی دهمدی جرګی غړی مړه اوټپيان شول اوهم يی دحکومت سياسی پوزيشن دخاورو سره خاوری کړايا ښاغلی صالح هغه وخت له خپلی دندی استعفا ورکړه چی زه په خپله دنده کی کامياب نه يم او له ملته ښښنه غواړم او که نه تر کومی چی په واک کی وی هر څه سم وی خو چی کله له واکه ګوښه کړی شی نو دهمغه نظام چی تر پرونه يی دی ملاتړی وه نن مخالف شی اوداسی سپک الفاظ استعمالوی چی نه يواځی ديو سياسی شخص سره بلکی يو عام وګړی پری هم بد ښکاری زه نه پوهيږم دوی نور له دی مظلوم ولسه څه غواړی دا هغه څوک دی چی پښتانه يی دالقاعده او طالب په نامه وژلی اوبنديان کړی اوپه لوی لاس يی ددی ملت يوه لويه برخه پرحکومت بی باوره کړه اويو زيات شمير ځوانان يی په لوی لاس د مخالفينو په کتارکی ودرول اودا دوی ول چی امريکايانو ته پدی ملت دلويو بمونو دورولو فرمايشونه ورکول نو هغه څوک چی پرخپل ملت يی پرزوينه يواځی ستر بمون وی او وای دابمونه واړه دی زموږ ولس پدی بمو له منځه نه ځی ځکه په کومه خوله اوپه کومو سترګو بيا دملاتړ طمعه کوی همداراز پدی غونډه کې د تغيير او اميد ايتلاف استازي فاضل سانچارکي هم، د يادو وکيلانو له تحصن څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.

هغه د ولسي جرګې غړو ته وويل، چې په دغې مبارزه کې يواځې نه دي، دوی په ټول قوت د هغوې تر شا ولاړ دي نه پوهيږم ښاغلی سنچارکی دکوم قوت خبره کوی که قوت ولس وی خو ولس دوی ښه پيژندلی اونور ددوی په خبرونه غوليږی او که قوت هغه پيسی وی چی ايران او نورو ګاوډيانو له لوری ورته په ولسمشريزو ټاکنو کی ورکړ شوی وی خو دوی وه نشو کولای چی ولس پری واخلی نو اوس ځکه داکار کولای شی ملت بدل شوی که کومه بله لاره يی موندلی ده خو زه وايم چی ولس نور په دوی نه غوليږی

دوی په ملت کی ځای نه لری ددوی مبارزه دڅپی اوسمت لپاره ده نه دين اووطن لپاره ددی غونډی جوړونکی او.

له قانون نه د ملاتړ ايتلاف مشر حاجي ظاهر قدير په دې غونډه کې ګواښ وکړ، چې هيڅ مرجع نه شي کولای د ولسمشر حامد کرزي د (د زمري ۱۹مه) حکم پر دوی پلی کړي.

د ده په وينا، که هڅه وشي چې د ټاکنو په پايلو کې بدلون راشي، د دوی دغه اعتراضيه غونډې به د ارګ تر دروازو ورسېږي.

هغه زياتوي: هلته بيا مونږ د کرزي نه، نه غواړو، چې دغه ستونزه هواره کړي، بيا ورته وايو، چې استعفی دې ورکړه او ځه په مخه دې ښه.

ده د ټاکنو د خپلوک کمېسيون له رييس فضل احمد معنوي څخه وه غوښتل، د ولسمشر وروستی حکم دې پر دوی نه پلی کوی، که نه د دوی له جدي غبرګون سره به مخ شي.

هغه وويل، چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييس دی په خپله پخواني خبره ودرېږي، چې ويلي و:))هر څوک چې غواړي، د ولسي جرګې د ټاکنو په پايلو کې تغيير راولي، دا خوب دی، خيال دی، جنون او محال دی

که چيری په يو ملک کی دولسمشر حکم نه پلی کيږی دقضا په ارګانونو پريکړی ته احترام نه کيږی نودی ته يوملک جوازلری اوبيا هغه څوک چی ځانونه دقانون جوړونکی ګڼی پرخپل ځان قانون نه پلی کوی له نورو څه ګيله او پردی نه پوهيږی چی دولسمشر روخصتول ددوی په صلاحيتونو کی راځی او کنه

ايا دامسئله دومره مهمه ده څومره چی دی ښاغلو مهمه کړی دامهال په ملک کی نوردېر مهم مسايئل روان دی چی دهيواد راتلونکی ورپوری تړلی دی اود موکلينو خو دی خدای مل شی هغو خو چی دا حال ګوری نو هم يی په ديموکراسی زړه بديږی اوهم يی تری زړه بديږ ځکه دهمدی ديموکراسی برکت دی چی دهر چای پش پشم خان جوړ کړی او دخبر لاندی هم ديموکراسی يادوی اوباندی هم خو زه چی دی روانی وضعی ته ګورم نو لکه دنورو ايزمونوپه څير راته ديموکراسی هم شرميدلی او کله په سر ښکاری.

ټاکنو کې د درغليو د څېړلو په موخه د جوړې شوې ځانګړې محکمې د پرېکړې په اړه يو حکم صادر کړ.

دغه حکم په پلي کېدو سره به ۶۲ هغه کسان د جرګې غړيتوب له لاسه ورکوي، چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون بريالي اعلان کړي، وه.

د ولسمشر په حکم کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته دنده سپارل شوې، چې د اساسي قانون د ۳۳، ۸۶او ۱۵۶ مادو او د ټاکنو د قانون د ۶۲، ۶۳او ۶۴ مادو او د کابل ولايت د استيناف محکمې د مدني دېوان او شخصيه احوالو د ۲۲مې ګڼې قرار له مخې، د موضوع حقوقي برخه ژر تر ژره بشپړه کړي.

ياد شوی حکم په دريو مادو کې د کابل ولايت د استيناف محکمې د مدني دېوان او شخصيه احوالو د روان کال د زمري د مياشتې د ۱۳ مې نېټې د ۲۲مې ګڼې د قرار له مخې صادر شوی دی.

په حکم کې ليکل شوي، چې د دې حکم په صادرولو سره د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې ټول موضوعات، چې د ټاکنو له خپلواک کمېسيون پرته په هره بله مرجع کې تر دوران لاندې وي، بشپړ ګڼل کېږي.

په دې حکم کې راغلي، چې له ټاکنيزو سرغړونو پرته جرمي موضوعات، چې د ټاکنو د قانون په ۶۳مه ماده کې ياد شوي، له دې حکم نه مستثنا دي.

خو له قانون نه د ملاتړ ايتلاف د دريمې ورځې په اعتراضيه غونډې کې چې يو شمير وتلو اوپاتو وکيلانو ترڅنګ پکې د ملي امنيت پخواني مشراودتغير اواميد ګوند غړی امرالله صالح هم ګډون کړی وه امرالله صالح د دې ترڅنګ، چې د ولسي جرګې د غړو له تحصن څخه خپل ملاتړ اعلان کړ، ورېي ويل، چې د قانون له مخې څوک دا واک نه لري، چې د دې جرګې د ټاکنو په پايلو کوم بدلون راولي.

هغه زياته کړه، چې د ولسي جرګې

سوله

سيد فضل مولا "لټون"

د اسلام مبارک دين د سولې دين دی، پخپله اسلام او مسلماني پخپل نفس کې د سولې پيغام او معنی لري، که د اسلامي تاريخ په رڼا کې د سولې مطالعه وکړو، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم چې د وخت پادشاهانو ته کوم پيغامونه استولي وو، په هغو کې تر ټولو لومړی مقصد د سولې او روغې جوړې و، چې کله هغو پادشاهانو نبوي پيغامونه رد کړي دي بيا نو جنګ او جګړو ته نوبت رسېدلی دی.

ولې هغه مهال چې کوم لږ شمېر مسلمانان موجود وو، هغوی اسلام په ټوله معنی منلی و، يوازې د يوه الله جل جلاله عبادت يې کاوه، يوازې د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم پر لارښوونو يې عمل کاوه، د الله جل جلاله وېره يې داسې په زړونو کې ځای شوې وه، چې له همدې يوې وېرې او مينې پرته يې له نورو دنيوي دهشتونو او وحشتونو او همدا ډول دنيوي پرتم، مال، جاه و جلال مينې ته په خپلو زړونو کې ځايونه ورکولای نه شول، همدا لامل و، هغه بېدياني او بېچاره ولسونه چې د نړۍ پادشاهانو پرې حکومت کول نه غوښتل د الله جل جلاله په مرسته د نړۍ په سترو واکمنانو کې وشمېرل شي او دا ځکه چې دهغوی لاره او اهداف سپېڅلي وو، د دنيا او مافيها لپاره نه وو، يوازې د يوه الله جل جلاله بنده ګي او د الله جل جلاله د بنده ګانو غاړې د باطلو او تراشل شويو خدايانو له بنده ګۍ نه خلاصون و.

هغوی د اسلامي ورورولی په مضبوطه رسۍ سره تړل شوي وو، د يوه الله جل جلاله د بنده ګۍ تر شعار لاندې راټول شوي وو او د سولې، امن، ورورولی پيغام يې نړيوالو ته رسول غوښتل، د قريشو، حجازيانو، نخديانو او نورو خپلوانو او قام پالنې او وطن پالنې تر نومونو لاندې راټول شوي نه وو، په هغوی کې د لوړاوي څښتنان له خدايه جل جلاله وېرېدونکي وو، هغوی قومي، سيمه ييزې، ژبنی او نورې وياړنې چې تر اسلام دمخه پکې دود وې د خپل پيغمبر صلی الله عليه وسلم په لارښوونه پرېښې او مردارې ګڼلې وې، هغوی ته خپل لارښود لارښوونه کړې وه "څوک چې د قومي تعصب په لور بلنه ورکوي زما له امت څخه نه دی"، او "څوک چې د قومي تعصب په حالت کې مړ شو زما له امت څخه نه دی" او چې کله په مدينه منوره کې د اوس او خزرج د قبيلو وګړيو ترمنځ لفظي شخړه رامنځته شوه او د هرې قبيلې خلکو خپلو پلويانو ته په قبيلوي نومونو نارې کړې، نو پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: "پرېږدئ دا نارې، دا نارې مردارې دي" نو پر دواړو لوريو باندې يخې اوبه تويې شوې.

راځئ په پورته يو څو جملو ځانونه او خپله ټولنه وتلو، موږ چې د اسلام د مبارک دين د پيروي دعوه لرو، ځانونه د محمدی صلی الله عليه وسلم شريعت پيروان بولو، د روا او ناروا، د حق او باطل، د حرامو او حلالو، د سمې او ناسمې لارې د پيژندلو مدعيان يو، د عقل او پوهې دعوه هم کوو، په واز کومې د اسلام نه د دفاع شعارونه ورکوو او پر خپل تېر تاريخ او مېړانه وياړو هم. پخپل ګران هېواد کې د مېشتو قامونو د ورورولی او يوه واحد ملت شعارونه هم ورکوو، په چاپي او تصويري رسنيو کې د افغان ملت د يووالي او ورورولی خبرې هم کوو، خو بيا هم خپل ځانونه پښتانه، تاجيک، هزاره، پشيان، ازبک او ترکمن بولو او د همدغو توکمونو د حقوقو د اعادې او لاسته راوړنې لپاره هڅې او کوښښونه کوو، ددې پر ځای چې ځانونه د يوه واحد ملت غړي وبولو، ددې پر ځای چې د ټولنيز عدالت له لارې ګرد افغان ملت پر يوه لاره روان کړو، ددې پر ځای چې د پرخپل ځان اعتماد له لارې خپل ځانونه او هېواد ودان کړو ولې په نورو پسې ځانونه وتړو؟ ولې د نورو د لاسو الې وګرزو، ولې له پرديو پر خپل هېواد کې د سولې د راوستلو، د امنيت د تأمين، د هېواد د ودانولو هيله او اسره وکړو؟ موږ چې خولې مو د خپلو پلرونو او نيکونو د تودې او مېړانې په ستايلونه ستړې کېږي، ولې له پرديو پرته د خپل هېواد او خلکو دفاع ونه کړای شو؟ ولې ملي پخولاينه د افغانستان مېشتو قوميتونو په جلا آيينه کې ګورو؟ ددې پر ځای د ګرد افغان ملت د يوه مبرم ضرورت او اړتيا په ښېښه کې ورته ولې لارې چارې نه سنجوو؟ د بهرنيو له مداخلې نه هره ورځ شکايت کوو، ولې ددې خبرې ورتيا د يوه ملت په حيث په ځانونو کې نه پيدا کوو، چې د افغان مسلمان ملت وګړي يو د بل په وړاندې دلاس الې ونه ګرځي، ولې پردي او بهرني زموږ په کورنيو چارو کې لاسوهنه کوي، ددې بهرنيو لاسوهنو په مقابل کې د يوه ملت په حيث زموږ ملي دنده څه ده؟

ښاغليو لوستونکيو! دا يوويشتمه ميلادي پېړۍ ده، د نړۍ هېوادونه له نورو هېوادو سره د خپلو ملي ګټو پر بنسټ اړيکې ساتي، هغوی چې د يوه ملت په حيث د خپلو ملي ګټو د خوندي کولو او لاسته راوړلو په خاطر، زموږ ملي ګټې ګوابنې، په مقابل کې يې د يوه ملت په حيث زموږ وجيبه څه ده، چې خپل ملت پر دې قانع کړو، چې زموږ ملي ګټې که له نورو سره په ټکر کې واقع کېږي موږ بايد څه وکړو. د نورو له ګټو دفاع وکړو او که له خپلو؟

درنو لوستونکيو! زموږ ملي ګټې ايجابوي چې که غواړو هېواد او ملت مو متحد پاتې شي، د خپلمنځي اختلافاتو له امله سوله خو لا څه چې خدای مکړه د تجزيې خواته ولاړ نه شي، لازمه ده چې تر هر څه رومبی له ځانونو سره سوله وکړو، په دې معنی چې، د خپلو بچو، اولادو، کورنيو، خاندانونو، قومونو، سيمو او هېواد او هېوادوالو د ژغورنې لپاره يو بل ته د ورورۍ، خواخوږۍ، صميميت او اتحاد او اتفاق لاسونه ورکړو، خپلې اړتياوې پخپله وپېژنو او پخپله ورته په يوه منلې ملي روحيه د حل لارې ولټوو، د خدای جل جلاله هېواد، هېوادوالو په خاطر له ځانګړيو، قومي، ژبنيو او سيمه ييزو ګټو او ددې ترڅنګ له کرکې او نفرتونو تېر شو، مخه ښه ورته ووايو او مردود يې وشمېرو، په يوه غږ او ګډ عمل دسولې لپاره کار وکړو او د سولې له دښمنانو سره د هر اړخيزې مقاطعې سره سره مقابلې ته ځانونه تيار کړو.

دا به بيا هغه مهال وي، چې موږ به د يوه واحد ملت په حيث پخپل هېواد کې د سولې رښتيني پلويان يو او ددغه اتحاد او يووالي په برکت به کولای شو چې له خپلو هر ډول مخالفينو سره د سولې خبرې اترې د پوهې، تدبير او عقل په رڼا کې پرمخ بېولای شو، او پخپل هېواد کې د دايمي سولې ارمان ته رښتينې او واقعي بڼه ورکړو.

اوس خو د ډېر شرم او بې غيرتی خبره داده چې د هېواد په داخل او بهر کې د پرديو د دوستۍ او پلويتوب ډېرې پر سينې مړو، که اقرار يې نه کوو نو له عمل او کردار مو له وړايه څرګنديږي. تاسي او خدای چې همداسې نه ده؟

د پنځو سوو زرو هوايي عملياتو ګټه هيڅ او تاوان يې ډېر

محمد خليل

د ایساف د ځواکونو ویاند جنرال کارټن جکوبسن د تېرې دوشنبې په ورځ په یوه خبري ناسته کې خبریالانو ته وویل چې په تېر یو کال کې مو په افغانستان کې د الوتکو له لارې څه باندې پنځوس زره هوايي ماموریتونه ترسره کړیدي، جکوبسن زیاته کړه چې په دغو عملیاتو کې دوه زره او اته سوه عملیات د ځانګړو ځواکونو د شپې ترسره شوي دي، چې په پنځه اتیا فیصدو کې یې له سره ډز نه دی شوې او په دې کې شاوخوا پنځوس فیصده بریالیتوبونه ترلاسه شویدي.

دا خبره په ریکارډ کې موجوده ده چې امریکایي او ایساف ځواکونو قوماندانو له پیل نه په افغانستان کې د مخالفو وسله والو شمېر له لسو او شلو زرو نه زیات کله هم نه ده ښودلې. خو اوس چې د ایساف د ځواکونو ویاند جنرال کارټن جکوبسن یواځې په دې یو کال کې د پنځو سو زرو هوايي ماموریتونو د ترسره کولو خبر ورکړېدی د خلکو په اذهانو کې دا پوښتنه راولاړوي چې که حداوسط په هره هوايي ماموریت کې دوه تنه هم مخالفین وژل شوي وي نو شمېره یې یو لک مرو ته رسېږي، په داسې حال کې چې مخالفین نه یواځې دا چې کم شوي نه دي بلکې لا پسې غښتلي شوي هم دي.

لدېنه دا ثبوت ترلاسه کېږي چې په دغو هوايي ماموریتونو کې صرف د افغانستان بې ګناه ولسي وګړي وژل شویدي، دهغوی کورونه او کوډلې ویجاړې شوی او مال او حال یې تباه شوی دی، د هوايي بریدونو برسېره چې د زمکنیو حملو په

ترڅ کې بې ګناه ولسي وګړو ته څومره د سر او مال تاوان رسیدلي هغه لدېنه علاوه ده، که دواړه سره جمع شي نو بیا خو د مړینو او تاوانونو کچه دوه برابره کېږي.

اوس دې نو د امریکا او ناټو غړو هېوادو مشران پخپله قضاوت وکړي چې آیا دهغوی هوايي او زمکنیو ځواکونو به د تېرو لسو کلو په اوږدو کې لکونو بې ګناه ولسي وګړو ته مرګ ژوبله نه وي اړولې !؟ آیا دداسې ړندو هوايي او زمکني بریدونو په ترسره کولو به د افغان ولس کرکه او نفرت نه وي زیاته کړی؟

آیا په دې کار سره د خپلې د هغې دعوی نفی پخپله نه ده کړی چې زموږ ځواکونه د افغانانو د ساتنې او خدمت لپاره راغلي دي، بهرني ځواکونه دې دا واقعیت ومني چې د تېرو لسو کلو راهیسې په افغانستان کې دهغوی له خوا د ترهګرۍ په خلاف د جګړې تر عنوان لاندې کوم جنګ روان دی په دې کې ۹۹ سلنه بې ګناه ولسي وګړی زیانمن شوي دي نو ځکه په دې وروستیو کلونو کې امریکايي او نړۍ والو ځواکونو په خلاف د افغانانو کرکه زیاته، او دا اندېښنه یې قوي شوې چې هغوی اصلاً د ترهګرو د ځپلو په بهانه د عامو افغانانو د ځپلو او پرافغانستان د ګیډې د اچولو لپاره راغلی دي، که نه نو دا ځنګه کېدې شي چې د ځو زرو مخالفینو په تښ کې دې لکونه عام ولسي وګړي ووژل شي.

د شنونکو په اند که امریکايي او ناټو ځواکونه پخپلو دغو روانو جنګي پالیسیو له سره غور ونکړي او د تېر په څېر د افغانانو کلي، قریې او بانډې د خپلو ړندو هوايي او زمکنیو عملیاتو هدف وګرځوي نو لېرې نه ده چې د افغان ولس لږ غوندې پاتې اعتماد هم له لاسه ورکړي او د روسانو په څېر د افغانانو د عمومي پاڅون او سخت مقاومت په نتیجه کې په تېتو سترګو وتلو ته اړ شي.

د تسليت پيغام

د حزب اسلامي افغانستان رئیس او اجرائیه شورى د لوګر د ولايتي شور د منشی محترم معلم عبدالحکیم سلیمانخیل د شهادت له امله چې په یوه ترافیکي حادثه کې په شهادت رسېدلې، خپل تسلیت پیغام د شهید درنی کورنۍ او خپلوانو ته وړاندې کوي.

الله جل جلاله دې هغه ته د جنت لوړی درجې او اقاربو ته دې ددنیا او آخرت نیکي بدلی ورکړي.

(انا لله وانا الیه راجعون)

سيزده مکتب در هشت ولايت اعمار ميشود

کابل، پژواک:

در مدت شش ماه آینده با اعمار ساختمان های ۱۳ مکتب در هشت ولایت کشور، زمینهٔ آموزش برای حدود ۸۵۰۰ متعلم در ماحول مصئوون تعلیمی مساعد خواهد شد.

قرار داد پروژه های یادشده که انتقال و جابجاکردن ۱۶ بابکانتینر برای گدام در مکاتب دو ولایت نیز شامل آن است، به روز (۲۵ اسد) میان وزیر معارف ونماینده گان شرکت های ساختمانی در کابل به امضا رسید.

فاروق وردک وزیر معارف به خبرنگاران گفت که مصرف مجموعی این پروژه ها بیش از ۱،۶ میلیون دالر امریکایی می شود که از بودجه انکشافی دولت، به کمک مالی بانک جهانی و کشور دنمارک تمویل می گردد.

وی بدون ارایه جزییات بیشتر گفت که ساختمان های یادشده مکاتب در ولایات غزنی، بادغیس، لغمان، ننگرهار، هرات، کندز، بغلان و کابل اعمار می گردد.

وی در مورد دو پروژه دیگر انتقال کانتینرها معلومات ارایه نکرد؛ اما عبدالصبور غفرانی مسوول مطبوعات آن وزارت گفت که ۱۶ کانتینر به ولایات غزنی و ننگرهار انتقال می شود. وی گفت که از این کانتینرها برای گدام های مکاتب ولایات یادشده؛ استفاده خواهد شد.

به اساس معلومات وزارت معارف درحال حاضر در سطح کشور؛ حدود ۷۰۰۰ مکتب در ساختمان های کرایی و یا زیر درخت ها و خیمه ها فعالیت دارند.

وزیر معارف، نبود تعمیر و ماحول مناسب درسی در این تعداد مکاتب را چالش عمده آن وزارت خوانده گفت که برطرف شدن این مشکل، نیاز به برنامه درازمدت دارد.

وردک گفت که در حال حاضر، سالانه وزارت معارف ظرفیت و امکانات اعمار و تمویل ساختمان ۵۰۰ مکتب را دارد.

به اساس معلومات آن وزارت در مدت حدود ده سال گذشته؛ ساختمان های ۱۰۷۰۰ مکتب در سطح کشور اعمار گردیده است.

حمایت مشروط بریتانیا از ...

جمهور کرزی به کمسیون مستقل انتخابات در مورد حل بحران های انتخاباتی استقبال کرد.

"من از فرمان رییس جمهور کرزی به عنوان فرصت که بتواند سبب حل معضله طولانی انتخابات شود استقبال می کنیم. من از حقیقت که کمسیون مستقل انتخابات یک نهاد قانونی است و آخرین فیصله را در مورد می کند حمایت می کنم."

پیش از این رییس جمهور ایالات متحده امریکا باراک اوباما در یک صحبت ویدیوی با رییس جمهور کرزی نیز حمایت اش را از این فرمان اعلام کرده بود.

اما این فرمان بداخل افغانستان با عکس العمل های زیادی از سوی شماری از افراد و ایتلاف تغیر و امید مواجه گردید.

رییس جمهور کرزی به روز چهارشنبه گذشته فرمان را صادر کرد که به اساس آن کمسیون مستقل انتخابات موظف گردید تا در مطابقت به قانون اساسی، قانون انتخابات و قرار صادره شماره بیست و دوی دیوان مدنی و احوال شخصی محکمه استیناف جوانب حقوقی موضوع را نهایی سازد.

په یوه کال کې مو تر ۵۰ زره ...

کې تر پنځوس زره زیات هوايي عملیات کړي. په دغو عملیاتو کې د ایساف درې الوتکې لوېدلې چې وروستۍ یې تېره اوونۍ وغورځېده."

د میدان وردک ولایت د سیداباد ولسوالی په تنګي سیمه کې د امریکا د یوې چینوک هیلي کوپټرې د لوېدو په پېښه کې ۳۰ امریکایي پوځیان، د هغوی یو ترجمان او دغه راز اووه تنه افغان کوماندو ځواکونه ووژل شول.

د ایساف ویندوی په دې باب څه ونه ویل چې په دغو بمبارۍ کې څومره کسان وژل شوي.

ده همداراز وویل چې ایساف ځواکونو په تېر یوه کال کې له افغان ځواکونو سره تر ۲۸ زره زیات ګډ عملیات کړي چې په نتیجه کې یې یوشمېر وسله وال مخالفان وژل شوي دي.

د افغانستان حکومتي چارواکي په ځانګړي ډول ولسمشر کرزی د ناټو ځواکونو له لوري له هوايي حملو او همداراز د شپې په مخه له چاپو سره مخالفت کوي خو ایساف وایي دا ډول عملیات په افغانستان کې د مخالفانو د ځپلو لپاره تر ټولو مصونه او خوندي لاره ده.

ښاغلي جاکوبسن وویل: "حاضردمه په افغانستان کې دا تر ټولو مصئون عملیات دي، دا د نیولو عملیات دي چې په پنځه اتیا فیصده مواردو کې پرته له دې چې کوم ډز په کې وشي ترسره کیږي، د دې ماموریتونو شاوخوا پنځوس فیصده بریالي وي."

ایساف ځواکونه د شپې له خوا په دغو عملیاتو کې معمولاً د مخکینیو استخباراتي معلوماتو له مخې په هغو کورونو او خایونو چاپې اچوي چې وسلوال مخالفان په کې پټ وي خو ویل کېږي چې ایساف ځواکونو ته ډېر خلې غلط مالومات ورکول کېږي او په نتیجه کې یې بېګناه خلک وژل کېږي.

د فرانسې دفاع وزیر له افغانستانه ...

پوځیانو په ډرو کې یوه برخه وباسي خو ټول پوځیان به د ۲۰۱۴ کال تر پایه وباسي. تر هماغه وخته د افغانستان د ټولو سیمو د امنیتي چارو مسوولیت افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل کېږي.

د فرانسې سوسیالیست ګوند په داسې حال کې له افغانستانه د ټولو فرانسوي پوځیانو د ایستلو غوښتنه وکړه، چې دغه ګوند د راتلونکو ولسمشریزو انتخاباتو لپاره د خپل کاندید پر معرفي کولو سلامشوره کوله.

کتونکي د فرانسې د سوسیالیست ګوند غوښتنه تر ډېره یو انتخاباتي کمپاین بولي ځکه چې د فرانسې اکثره خلک نه غواړي ځواکونه یې په افغانستان کې وي.

د فرانسې سوسیالیست ګوند د ۱۰۱۲ کال د ولسمشری د انتخاباتو لپاره د هلوځلو په لړ کې په افغانستان کې د فرانسوي پوځیانو له حضور سره د مخالفت په ځنګ کې له پورونو سره د مقابلې په برخه کې هم د سرکوزي د حکومت خلاف نظرونه وړاندې کړي دي.

د فرانسې د سوسیالیست ګوند لومړي منشي مارتین اوبري ویلي چې که د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې بریالی شو د ۲۰۱۲ کال ترپایه به له افغانستانه ټول فرانسوي پوځیان وباسي.

له ۲۰۰۱ څخه، چې فرانسې د نړیوال ایتلاف پرضد د طالبانو او القاعده پرضد افغانستان ته عسکر لېږلي، تراوسه پورې ۷۴ فرانسوي پوځیان وژل شوي دي.

پنج تانکر و یک کانتینر قوای ...

قوای ناتو بکلی سوخته و از بین رفت، این واقعه شام روز دوشنبه حوالی ساعت هفت و ده دقیقه صورت گرفت."

ناگفته نماند که بخش اعظم مواد سوخت مورد نیاز نیرو های ایتلاف توسط تانکر های زمینی از طریق پاکستان به افغانستان ارسال می گردد، قبلاً نیز تانکر های مواد سوخت مربوط قوای مذکور از جمله هدف های شورشیان مخالف دولت بوده است.

حملات بالای تانکر های مواد سوخت قوای ایتلاف سال گذشته در نقاط مختلف پاکستان هنگامی افزایش یافت که هلیکوپتر این قوا داخل خاک پاکستان گردیده و در منطقه کرم ایجنسی بالای یکی از پوسته های امنیتی تیر اندازی کرد که در نتیجه ، تن از عساکر پاکستانی کشته شدند.

اگرچه تا اکنون مسوولیت این انفجار را هیچ گروه به عهده نگرفته ولی مسوولیت چنین حملات بالای تانکر های مواد سوخت ناتو را که قبلاً در مربوطات لندی کوتل رخ داده گروه عبدالله عزام بریگید که شاخه از طالبان پاکستانی است به عهده گرفته اند.

امریکا نوره له پاکستان سره په...

مرستې نه کوي او له دې هیواد سره باید هر راز مرسته خامخا له دې سره تړلې وي چې دا هیواد د تروریزم پرضد په جګړه کې څومره صداقت ښيي.

اټکل کېږي چې پاکستان له ۲۰۰۱ څخه تراوسه پورې له امریکا څخه تر شل ملیارد ډالره زیاته مرسته ترلاسه کړې وي.دا پوځي مرسته له هغو پیسو جلا دې چې پاکستان په بشري، پرمختیایي برخو کې ترلاسه کړې دي.

د امریکا د کانګریس غړي له پاکستان سره د امریکا د مرستو سخت مخالفت کوي د همدې لپاره د متحدو ایالتونو حکومتي چارواکي له پاکستانه غواړي چې عملي اقدام وښيي چې دوی له پاکستان سره د مرستو لپاره د کانګریس ملاتړ ترلاسه کړي.

د وال سټریټ ژورنال ورځپاڼې د راپور له مخې د امریکا د استخباراتو په مرکزي اداره یا سي آی اې کې له پاکستان سره د مرستو د څېړلو پټه اداره په څلورو برخو کې کار کوي او دا ګوري چې پاکستان په دغو څلورو برخو کې څومره همکاري کوي څو د هغې پراساس له دې هیواد سره د پاکستان د مرستې د دوام ملاتړ وکړي. دوی له پاکستانه د اسامه بن لادن له کوره د مالوماتو، د افغانستان په جګړه کې د پاکستان د همکارۍ، د ترهګرۍ پرضد په هلوځلو کې د امریکا او پاکستان د ګډو هلوځلو او په مجموع کې د دوه اړخیزو اړیکو او همکاریو د زیاتېدو غوښتونکي دي.

امریکایي مقاماتو ویلي چې په راتلونکي کې له پاکستان سره د امریکا مرستې به له دغو څلورو مواردو سره تړلې وي.

وال سټریټ ژورنال د پاکستان د استخباراتو د ادارې د یوه ویاند له قوله ویلي چې پاکستان امریکا ته کوم ضمانت نه شي ورکولی او د ترهګرۍ پرضد د مبارزې او د افغانستان په باب هم د چا سپارښتنه نه شي منلی.

خو د پاکستان ملکي حکومت د پوځ او استخباراتو په شان د افغانستان او تروریزم په وړاندې حساس دریځ نه لري، د پاکستان حکومت ویلي چې له امریکا سره د ښو اړیکو غوښتونکی دی او د دواړو هیوادونو اړیکې یواژې په مرستو پورې محدودې نه دي.

۱۲ فرد ملکی در نتیجهٔ درگیری ...

نمودند و نیروهای آیساف نیز این منطقه را هدف قرار دادند.

والی علاوه کرد که شماری از مرمی ها، هنگام درگیری بر منازل افراد ملکی اصابت نموده و در نتیجهٔ آن ۱۲فرد ملکی زخم برداشته است.

وحیدی گفت که شش طفل، چهار زن و دو جوان در جمع مجروحین بوده و به شفاخانهٔ ملکی کنر منتقل گردیده اند.

داکتر مومن یکتن از باشنده گان محل، به پژواک گفت که مرمی های نیروهای امریکایی، بر دو منزل در منطقه اصابت نموده است.

نامبرده افزود که یک مرمی، بر منزل یک خارنوال اصابت نموده و در نتیجهٔ آن هفت دختر و دو جوان مجروح گردیده اند.

دفتر مطبوعاتی آیساف در ولایات شرق، به پژواک گفت: آنها منطقه ای را هدف قرارداده اند که از آنجا بر آنها حمله صورت گرفته بود.

به نقل از منبع، افراد ملکی در نتیجهٔ حملات طالبان مسلح، زخم برداشته اند.

اما ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان ادعا دارد که به نیروهای ناتو، در نتیجه حملهٔ آنها تلفات وارد گردیده و این نیروها در شلیک متقابل، افراد ملکی را هدف قرار داده اند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۸۰۹۸۳۰۸

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوي مطالب نه مستردېږي - یواځې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com